قريب الرحمن سعيد  ليکنه : ۲۰۰۹/۱۲/۱۱م

# د هيواد  په اړه  نوې ستراتيژي، څه بايد وکړل شي؟

په لسو اونيوکې نژدې د پنځه ويشتو ساعتود اوږود او ستومانونکي بحث او څيړني او دخپلو سترو او تجربه لرونکوسلاکارانو سره د خبرو اترو  وروسته بلاخره د امريکا ولسمشر اوباما د افغانستان په اړه يو ځل بيا په خپله پخوانۍ ستراتيژۍ چې د همدې کال د مارچ په ۲۷مه يي اعلان کړې وه د نوې سره کتنه وکړه اوخپله نوې ستراتيژي يي اعلان کړه ، په دغه ستراتيژۍ کې افغانستان ته د نورو(۳۰۰۰۰) زياتي ځواکونو د ليږلو تر څنګ يي يو بل ډير مهم اعلان هم وکړ اوهغه دا چې امريکا به  د ۲۰۱۱ کال د جولاې د مياشتې وروسته بيرته دخپلو ځواکونو د ويستلو کار پيلوي ، خو هغه څه چې د هغه په اعلان شوي پلان کې نه و هغه دافغانستان څخه د ټولو بهرنيو فوځونو د وتلو اخري نيټه ده .

د امريکايي ولسمشر اوباما دغه اعلان دهغه دسلاکارانو لخوا په مختلفو ډولو تعبير شو ، ان تردې چې د دفاع وزير را برګيټ او د عسکرې قواو قومندان جنرال ميک مولن په خپلو بيانونو کې دا ډاګيزه کړه چې دا اعلان په هيڅ توګه ددې معنې نه ورکوی چې امريکايان به افغانستان يو ځل بيا يواځې پريږدی ، بلکه خپل يو شمير ځواکونه به دلته په دې هيواد کې د حاکم نظام د ملاتړ له پاره و ساتي ، همدا راز هغوې دا هم ډاګيزه کړه چې تر هغې چې زمکنی شرايط نه وي تبديل شوي او امريکايان د مخالفينو د ځپلو نه وروسته په دې نه وې ډاډ من شوي چې په افغانستان کې د هغوې په لاسو جوړشوې نظام به دکوم خطر سره نه مخ کيږي، نو تر هغې پورې به دخپلو فوځونو په شميره کې کمښت را نه وړي .

اوس د امريکايي وسلوالو ځواکونو شميره ۶۸۰۰۰ کسان دي او د ايساف او ناټو د وسلوالو ځواکونو شميره ۴۰۰۰۰ ته رسيدلي ده. دامريکا له لورې د ۳۰۰۰۰ نورو وسلوالو ځواکونو د را استولو سره به د امريکا ۳۰۰۰ نور نظامي مسؤلين د افغانستان د ملي اردو!!! د روزني په خاطر هم هلته ورليږي نوپه دې ترتيب به د امريکايانود وسلوالو ځواکونو شميره تر يولک او زرو کسانو پورې ورسيږي . تر څنګ يي د امريکايي سر چينو له مخې ډاګيزه شوې ده چې د امريکا (۷۶۰۰۰ ) وګړي د استخباراتي ادارو د کارکونکواو انجنيرانو ... په څير دلته په هيواد کې شتون لري. همدا رنګه امريکايانو د خپلو ځانو د خوندي ساتنې په خاطر د افغانانو د سلو زرو څخه زيات شمير وګړي د ځانګړو ځواکونو تر نامه لاندې استخدام کړي دي نو په دې تر تيب به په هيواد کې يواځې د امريکايي ځواکونواو دهغوې تر لاسو لاندې د استخدام شوو وسلوالو افغانانو شميره تر درې سوه زرو پورې رسيږي . خودا چې د ايساف او ناټو د ټلوالې هيوادونو څومره افغانان د خپلو ځانو د خوندي ساتلو په خاطر د ځانګړي فوځونو په څير استخدام کړي ، له ماسره يي کره معلومات نه شته.

دا چې ولې اوباما دخپلې نوې ستراتيژۍ اعلان د ډير ځنډ وروسته وکړ، په دې هکله هم مختلف آندونه شتون لري ، يو يي دادې چې ويل کيږي چې د امر يکا عسکري ځواکونه يا پنتاګون چې ددې هيواد د پخواني ولسمشر بوش د جنګي ماشين د اور بلونکو توکو په څير کار کوي ، د ويتنام او عراق د ناکاميو وروسته غواړي په افغانستان کې په هره بيه چې شونې وي ، څه برې تر لاسه کړي. او د امريکا د بهرنيو چارو مسؤلين به هماغه پاليسي تعقيبوی چې پنتاګون يی غواړی ، دا خبره هغه وخت ډيره زياته ډاګيزه شوه چې اوباما د مارچ په مياشت کې خپله لومړنۍ پاليسی اعلان کړه او ورپسې سمدستي ميرمن کلينټن په څرګندو ټکو دا وويل چې غواړی هماغه څه وکړي چې ددې هيواد نظاميان يی سهي بولي .

پنتاګون ددې له پاره چې ولسمشر اوباما دې ته اړ کړي چې افغانستان ته دمک کرسټل د غوښتنې سره سم اضافي ځواکونه و استوي نو په افغانستان کې يي د امريکايي او ناټو د قواو د عمومي قومندان جنرال مک کرسټل کلک ملاتړ وکړ، ويل کيږي چې پنتاګون د ددې فشار د زياتولو په خاطر دجنرال مک کرسټل را استول شوی ليک پخوا له دي چې سپينه مانۍ يی په اړه تصميمم و نيسي مطبوعاتو ته ورکړ او دخپلو مطبوعاتي ملګرو له اړخه يي پرې تبصري او شننې پيل کړې. د بله اړخه سپني مانۍ هم پنتاګون ددې عجلۍ د شنډولو په خاطر دخپل ديپلومات او په افغانستان کې د امريکا دسفير او پخوانی جنرال ايکن بيرې په واسطه اعلان وکړ چې افغانستان ته تر هغې پورې امريکايي اضافي ځواکونه ونه استول شې تر څو پورې چې د اداري فساد د مخنيوي او په کابينه کې د جنګ سالارانود نه شتون په اړه ډاډ نه وي ورکړل شوې .... خو داسي بريښي چې د پنتاګون فوځي کړۍ يو ځل بيا د پخوا په څيرد سپينې مانۍ په سياست پوهانو باندې بريالي شو او اوباما يي مجبور کړ داضافي ځواکونوپه ليږلو موافقه وکړ ي او اعلان يي هم په يوه نظامي ښوونځي کې تر سره شي .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ويل کيږي چې د اوباماد مجبوريتونو څخه يي يو دادې چې امريکا په داسې حال کې چې د سخت اقتصادي بحران ښکار شوې او نژدې پنځوس ميليونه وګړي يې د رو غتيايی بيمې څخه بې برخې دي غواړی دخپل ولس لورې ته توجه وکړي. هغه ددغه کار له پاره يوتريليون يا زر بليونه ډالره بودجه ټاکلې خو اوس د امريکا ډيره بودجه او باما ته د جورج بش له اړخه په ميراثې او را پاته جګړه ايزو ځواکونو مصرفيږي ، يعنې امريکا بايد هر کال سل ميليادره ډالر په افغانستانن کې مصرف کړي . د امريکا هر عسکر په کال کې يو ميليون ډالر مصرف لري په داسې حال کې چې دوې د افغانستان څخه د مادي ګټو د بيرته تر لاسه کولو له پاره هم ډيرې هيلې نه لري . همدا اوس د افغانستان د معدنونو د استخراج له پاره د چينايانو او غربيانو او په ځانګړي توګه د امريکايانو تر منځ لانجه روانه ده ، ځکه امريکانان نه غواړی د افغانستان ملکيت بل چاته ور حواله کړي .

پخوانې ولسمشر بوش هم په دې اقرار کړې و چې دهغوې اصلي موخه د عراق ولکه کول و او افغانستان دهغې له پاره يوه مقدمه وه ، خو اوس داسې بريښې چې د هغوې ټولې ارزونې بې ګټې وې او په خپل دې کار ډير پښيمانه دی ، ځکه چې د امريکا د ولس ډيره برخه او په ځانګړې توګه لوړپوړي سياسي او عسکری چارواکي په دې اند دی چې د افغانستان په شخړه کې ور ګډيدل يوه ډيره ستر اشتباه وه.

د امريکايي ولسمشر اوباما د نوې ستراتيژۍ په اړه په خپله په امريکا کې هم ضد او نقيض آندونه را منځته شوي دي . دديموکرات ګوند غړي، پخواني ولسمشر جيمي کارټر دا يوه ستره ا شتباه ګڼلې او ديموکراتان په دې باندې ډير زيات خواشيني دي ، همدا اوس اوس پخپله دديموکراتانو له اړخه د سپيني مانۍ تر مخه مظاهری رواني دي او د اوباما څخه غواړی د افغانستان څخه ژر تر ژره خپل فوځونه را وکاږی . خو تر څنګ يي جمهوريت غوښتونکي، ددې له پاره چې د جورج بش دپاليسو سهيوالې ډاګيزه کړي د زياتي فوځونو په ليږلو خوشحاله دي خو د بيرته را ويستلو اعلان يی ور خطا کړي دي . تر څنګ يي د غربي ولسونو او په ځانګړې توګه د امريکا او انګليس په هستوګنو کې د زياتي فوځونو د استولو په موضوع باندی ډيره نا خوښي ښکاره کړل شوی ده ، ډيره کي سياسي او نظامی شنونکی دا يوه ستره اشتباه ګڼي ، ان تردې چې د افغان مجاهدينو په لاسو د تباه شوي شوروي اتحاد او دکمونيزم د وراسته رژيم پخوانی ولسمشر ګورباچوف په خپله يوه مرکه کې ويلي دي چې « مونږ افغانستان ته د زياتي فوځونو څخه څه ګټه تر لاسه کړه چې تاسې به يې ترې تر لاسه کړئ ، د زياتي فوځونو استول يعنې د مرګ ژوبلې ډيرښت او ....»، د يوې بين المللې غيرې حکومتې ډلې لخوا په خپور کړل شوي را پور کې ويل شوي دي چې که چيرې امريکا او ناټو افغانستان ته يو ميليون فوځ هم وليږي نو بيا به هم دهغوې له پاره شونی نه وي چې په دې هيواد باندې ولکه وکړي .

افغانستان ته د زياتو فوځونو د ليږلو او نژدې اتلس مياشتې وروسته بيرته د هغوې د را ويستلو د ستراتيژۍ په اعلانولو سره د امريکا ولسمشر اوباما په يوه غشي د څو موخو د تر لاسه کولو هوډ کړې . لمړۍ دا چې د امريکا نا راضه ولس ته او تر څنګ يي نړيوالې ټولنې ته ډاډ ورکړي چې امريکا جنګ نه غواړي او دادې د خپلو فوځونو د بيرته را ويستلو له پاره يي تاريخ او نيټه هم اعلان کړه. د هغه په آند د زياتي ځواکونو ليږل په هيڅ ډول دا معنې نه ورکوي چې مونږ هلته پاته کيږو بلکه دا ځواکونه د هغوپه جنګ کې د را ښيکلو ځواکونو د ملاتړ په خاطر ور استول شوي دي ، دويم دا چې د امريکا په منځمهاله ټاکنو کې غواړی ديموکراتانو ته د پرلپسي بري ډاډ ورکړی ، دريم دا چې ، که څه هم د اوباما د ملاتړ ګراف د همدې افغانستان د جنګ په خاطر د ۶۵ سلمې څخه اوس ۴۸ سلمې ته را کيوتې دې خوهڅه کوی د خپل دويم ځل ټاکنې له پاره د ولس رايه او زړه سوې دخپل ځان په لور را واړوی ، څلورم دا چې هغه ددغه نابېره اعلان له مخې خپلو ټولو حليفانو ته او هم ولسمشر کرزی ته ګواښ وکړ چې په دغه موده کې خپل پروګرامونه دهغه د ستراتيژۍ په مطابق جوړ کړي ، او همدا راز يي د جنګ په ډګر کې ولاړو مجاهدينو ته په ډانګ پيېلې توګه وويل چې په افغانستان کې د يو سياسي حل د تر لاسه کولو له پاره ځانونه سره و څنډي .

د اوباما ددغې ستراتيژۍ اعلانولو هم په امريکا او هم د افغانستان په ګډون په ټوله نړۍ کې عکس العملونه را پارولي . يو شمير غربي کړی وايي چې هغه هم د کرزي حکومت ته او هم په هيواد کې د بهرنيو ځواکونو پر خلاف په غرونو کې ناستو مخالفينو ته په مرموزه توګه اشاره ورکړې چې نه غواړی په افغانستان کې پاته شي ، خو اوباما او دهغه مشاورينو د خپلې دغې نوې اعلان شوې ستراتيژۍ د پلې کولو له پاره يولړ شرايط وړاندې کړې او هغه دا چې که زمکني شرايط جوړ وي نو بيا به دخپلو عسکرو د ويستلو له پاره تصميم نيسي ، خو هغه څه چې د امريکايي کړيو څخه را ډاګيزه شوي په هغو کې ويل شوي چې امريکا به هيڅکله هم د افغانستان څخه په مکمله توګه و نه وځي او نه به په افغانستان کې دهغوې په لاس دغه جوړ شوې نظام را پرزيدو ته پريږدی .تر څنګ يي غربي کړيو دا هم څرګنده کړې ده چې امريکايانو دا هوډ هم ډاګيزه کړې دی چې هغوې به هيڅکله هم پرې نه ږدې طالب ځواکونه يو ځل بيا د هماغه پخواني


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه**: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ذهن سره یو ځای د خپلې خوښې اسلامي امارت د افغانستان په ولس ور وتپي ، او تر څنګ یې د شنونکو په وینا ، افغان ولس هم دې ته تیار نه دې چې د ټول ټاکنو پرته پرې کوم تپلې نظام حاکم شي .
غربي شنونکي په دې باور دی چې د اوبا ما د حکومت او دهغې د ستراتیژۍ د اعلان څخه دا ډاګیزه کیږې چې هغه د خپلو مخالفینو دا شرط منلې چې دوې به د یوه مهال ویش له لارې وتلو ته چمتووي خو په دې شرط چې مخالفین به هم اوس د دیپلوماسۍ په لور یو قدم مخته ورځي تر څو ددیپلوماسۍ له لارې د افغانستان اوسني جګړنی حالت په امن باندي تبدیل شي .
ددې تر څنګ په هیوادکې هم دمدني او حقوقي ډلو ټپلو له اړخه د سولې او امن د راوستلو تر نامه لاندې ډیرې هلې ځلې رواني دي . همدا راز ولسمشر کرزې اعلان کړې چې که چیرې امریکایان ورسره توافق ولري نو حاضردې چې د ملا عمر سره د سولې د خبرو په میز کښیني . څرنګه چې د ولسمشر کرزي خپله خپلواکي او اتارټي تر پوښتنې لاندې ده نو په دې خاطر د طالبانو د غورزنګ په ګډون ټول مخالفین دې ته تیار نه دي چې د امریکایانو په شتون کې د ولسمشر کرزې او یا دهغه د حکومت د استازو سره خبرو ته کیني.
په هیواد کې د سولې او امن د راوستلو د هلو ځلو له پاره تر اوسه پورې نژدې څلور ډوله آندونه مخ ته راغلي دي .
یو دا چې ددولت او مخالفینو تر منځ نیغ په نیغه د خبرو کولو زمینه برابره شي . ددې آند لرونکو په دې لړکې د بین المللي ټولنې څخه غوښتې چې د مخالفینو د مشرانو نومونه د تورلست د نوملړ څخه لرې کړي ، او هغوې ته د ازادو ګرزیدو او تګ راتګ او خوندیتوب ډاډ ورکړل شي ،همدا راز دهغوې سره د تماس د نیولو ادرس معلوم شي .
د دویم آند لرونکي پخپله مخالفین دي چې د خبرو اترو له پاره خپل شرایط لري . دهغوې تر ټولو لمړۍ شرط د بهرنیو ځواکونو د ویستلو او د هیواد د استقلال بیرته تر لاسه کول دي . په دې شرط د خبرو اترو پرته مخالفین د خبرو اترو کول هسې د وخت ضیاع او دښمن ته دپښو د ټینګولود فرصت د ورکولو په معنا ګڼي.
ددریم آند خاوندان په دې اصرار کوی چې د خبرو اترو له پاره هیڅ ډول مخکیني شرط باید نه وي موجود. او څلور م آند د اشغالګرو ځواکونو دی. د هغوي شرط دادې چې ټول مخالفین دې وسله پر زمکه کیږدي او د هغوې پر لاسو جوړې شوې حاکمې ادارې ته دې پرته له شرطه تسلیم شي .
دا سهي ده چې د بهرنیو ځواکونو مخالفین چې اوس یې نیواکګران پوزې ته راوړی ، خپلې موخې او اهداف لري او دهغې د تر سره کولو پرته به د خبرواترو میز ته را نشي ، او نه به نیواکګران هسې په هسې او د خداې له پاره وغواړي دمخالفینو ستومن شرایط و مني ، بلکه د شرایطو منل او په هغې باندې اصرار کول ، ټول هر څه د زمکنیو واقعیتونو پورې اړه لري هر څومره چې زمکه دبهرنیو فوځونو تر پښو لاندې تودیږي پر همغه اندازه پرې دهغوې تم کیدل د زغم نه وځي ، نو په دې خاطر دا به سهي نه وی چې د شرایطو او اجنډا پرته خبروته دواړه خواوې را وبلل شي . د خبرو اترو له پاره باید ددواړو اړخونو تر منځ څه شرایط شتون ولری تر څو دخبرو اترو موضوع پیدا شي او که موضوع نه وی نو بیا خبرې اترې د څه له پاره. همدا راز د خبرو اترو اصلي اړخ او لورې باید معلوم وی . په هیواد کې په اوسني وخت کې د جنګ لورې د ولسمشر کرزي حکومت او نظام نه دې او نه هغوې ددې واک او اختیار لري چې د بهرنیو ځواکونو پر خلاف را ولاړ شوي جهادیانو سره څه را کړه ورکړه وکړي ، بلکه د مخالفینو سره دخبرو اصلي اړخ د هیواد په استقلال باندی غاصب ځواکونه جوړوي ، او دخبرو اترو او پریکړې واک هم د همدوې سره دې. په دې اساس زمونږ مدني ټولنې، دانساني حقوقو ، د جنګ پرخلاف او د امن او سولې ټولې ټولنې خپلې نظریې سره را غونډی کړي او د یوه آند د پلې کولو له پاره کار وکړي .
د اوباما ددې پالیسۍ د اعلان نه وروسته ،د بهرنیو ځواکونو پر خلاف جنګیدونکي ځواکونه هم باید جدي فکر وکړي چې څه ډول خپل هیواد او ولس ددغه نا انډوله جنګ څخه او د نژدې ۴۲ هیوادونو د اشغال څخه دخلاصون او د سولې او امن د فضا د رامنځته کولو په لور راهنمایي کړي او عملا دا ثابته کړي چې که دوې د خپل هیواد د استقلال د بیرته تر لاسه کولو له پاره د جنګ په ډګر کی بریالیتوبونه تر لاسه کړي دي نو د دیپلوماسۍ له پاره هم ددوې سره حوصله شته . همدا راز که له یوې خوا د بهرنیو ځواکونو مخالفین په ګرمو سنګرونو کې ناست او بهر نی نیواکګران یی دې ته اړ کړی چې د خپلو ځانو دخوندی کولو له پاره د تیښتې معقولې لارې و لټوی خو تر څنګ یې همدا مجاهدین د جنګ او جهاد تر څنګ خپل دیپلوماتیک چینلونه هم فعاله کړي او باید د یوې قوې او ځواکمنې ستراتیژۍ سره مخته راشي او بین المللي ټولنې ته داسې وړاندیزونه ورکړی چې عملي بڼه ولري تر څو د تفاهم او خبرو اترو له لارې د افغان ولس او په ځانګړی توګه د پښتون توکم د وژلو لارې بندې شي . او دا هغه وخت شوني ده چې د بهرنیو ځواکونو په


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خلاف دوه ستري جهادي ډلې هر يو حزب اسلامي افغانستان او د طالبانو اسلامي تحريک دواړه يوه مشورتي شورا جوړه کړی او د توثيق شوو او عملي وړانديزونو سره يو ځای د افغان ولس او هم د بين المللي ټولنې مخته را شي . داسي وړانديزونه چې دهغې په واسطه هم د هيواد سياسي استقلال او خپلواکي بيرته تر لاسه شی او هم واکمنی يوې ډلې ټپلې يا کوم شخص ته د ورکولو پر ځای بيرته افغان ولس ته ورکړل شي او دوې هم خپل ګوندونه د ولس قضاوت ته وړاندی کړي . ځکه که دا کار له همدا اوسه ونشي او د جنګ د زياتيدو په صورت کې د غربي هيوادنو ځواکونه، لکه څنګه چې د هغوې د روحياتو او ويناو څخه معلوميږي ، پرته له کومې معقولې طرحې خپلې پښې سپکې کړي او ولاړ شي او د هيواد برخليک لکه د روسانو د وتلو په څير د يو څو مزدورو ډلو ټپلو لاسو ته د کوم سازش له لارې ور وغورزيږي نو دهيوادوالو غميزه به د پای ته د رسيدو پر ځای په يوې بلې غميزي باندي تبديله شي .
دا بايد په ياد وي چې د هيواد دګاونډيانو ايران او پاکستان تر څنګ هندوان او روسان هم په افغانستان کې د يوه ولسواک نظام د ټينګښت څخه ويره لري او هڅه به کوی چې زمونږ په هيواد کی د خپلو موخو د تر لاسه کولو په خاطر يو تپلې نظام ولری اويا هيواد تل د ګډوډيو او جنګو نو په اور کې و سوځي.
خو بدبختانه د مجاهدينو دد ې ددووو قوي ډلو تر منځ هم څه اصولي اختلاف شتون لري . د طالبانود اسلامي تحريک آند دادې چې بهرني فوځونه دې سمدستي خپلې بستري بار او حکومت دي بيرته اسلامي امارت ته وسپاري ،خو د طالبانو د نظام د سقوط نه وروسته په دې تيرو اتو کالو کې زمونږ په ټولنه کې هم په ټولنيزه توګه او هم په ذهني او فکر ي توګه دومره ستر ستر بدلونونه را غلي چې دهغې له لورې دا کار لکه څنګه چې ورته مخته هم اشاره وشوه شونې نه معلوميږي .
د حزب اسلامي افغانستان آند دادې چې دبهرنيو فوځونوو دوتلوله پاره دې يو معقول او منل شوې مهال ويش اعلان شی او ددې مهال ويش داعلان سره سم دې د خپل منځي تفاهم له لارې داسې يو موقت حکومت جوړ کړل شي چې په هغې کې د اړوندو اړخونو په تفاهم سره بې لورې او تجربه لرونکي وګړي شامل وي ، په دې حکومت کې دې د کابيني نه نيولې تر ولايتونو پورې ټول مسؤلين د همد اسې بې لوريو وګړو څخه و ټاکل شي ، دوې به د ټولټاکنو له پاره تياري کوي خو پخپله به په ټولټاکنو کې ګډون نه کوی، دوې به په دې لنډه موده کې د ټولټاکنو وروسته واک ټاکلي ډلې ته ورسپارې ، په دې موده کې به د طالبانو په ګډون ټولې سياسي ډلې په ټاکنو کې برخه اخلي ، همدا راز د حزب اسلامي آند هم په همدغسې جمهوری رياستي نظام باندی ولاړ دې . دحزب اسلامي امير محترم حکمتيار د اساسي قانون په نشريه کې جمهوري نظام تر ټولو غوره او منلي نظام ګڼلې ، خو د هيواد د اقتصادي حالاتو د په نظر کې نيولو په اساس يی يواځې منتخب پارلمان ته ترجيح ورکړې او د سنا غونډه يي د ملت په بودجې باندې هسې يو اضافي بارشميرلې دې .
د حزب اسلامي او طالبانو تر منځ د اختلاف يوه ستره نقطه د ټولټاکنو مسئله ده ځکه دطالبانو اسلامي غورزنګ په ټولټاکنو عقيدله نه لري،او غواړي د حل وعقد د شورې د جوړښت له لاري خپل قيادت په ولس حاکم کړی . دټولټاکنو آند همغه آند دې چې پخوا هم د ډاکتر نجيب د حکومت د را نسکوريدو وروسته ، د حزب اسلامي پرته يي نورې ټولې په اصطلاح جهادی ډلې ټپلې هم منلو ته تيارې نه وې ، او دخپلو واکمنيو په خاطر يي د خپلې خوښې دحل وعقد شورا ګانی جوړولې ، چې غوره نمونه يي د استاد رباني حکومت و . خو اوس همدغه په اصطلاح جهادی رهبران دخپلو ځانو د ټاکني له پاره په ټولټاکنو کې د هر چا تر مخه ورغورزي. طالبان هم غواړی دواکمنۍ د انحصار له پاره دحل و عقد له لارې همغه خپل مشر د ولس قانوني مشر و ګڼي ، خو حزب د ټولټاکنوپرته او ټول ولس ته د خپل قيادت د ټاکلو په پروسه کې د ګډون او برخې اخستلو نه اخوا د قيادت ټاکل لغو او بيکاره ګڼي ، د حزب اسلامي له اړخه د سولې په وړانديزونو کې چې همدا اوس د امريکايي مشرتابه او يو شمير نورو اروپايي هيوادونو په کړيو کې تر څيړنې لاندی دي په همدې نقطې ترکيز شوې دې .
اوس نو دا د طالبانو دسياست پورې اړونده ده چې د بين المللي ټولنې سره د حزب اسلامي سره يو ځای دهيواد د غميزې د حل په خاطر د يوې منطقي اوسياسي لارې نه مخته راځي او خپل ځانونه دې ته چمتو کوي چې په راتلونکو وختونو کې د يوه سياسي تنظيم په څير د افغانستان ولس منځته ور ودانګي او د بين المللي ټولنې تر نامه لاندې افغانستان ددايمي اشغال څخه وژغوري اوکه نه همداسې د يوه قوي جنګي ماشين په څيرد افغانستان د ولس د غميزې د اوږديدو له پاره وينه توېونکی جنګ ته دوام ورکوی . همدا راز دا د اوباما او دهغه د حليفانو د جنګي ماشين سره هم غوټه لري ، چې ايا هغوې به هم د دې ستري غميزې د سياسي حل په لور د غرور او تکبر پر ځای د عقل نه کار واخلي او زمونږ د هيوادوالو تر څنګ به دخپلو عسکرو د تابوتونو د زيادښت پر ځای هغوې په خوندي توګه بيرته خپلو کورنيو او خپلوانو ته ور ليږي او که د روسي ماتې شوې امپراطورۍ برخليک ته به لکه څنګه چې اټکل کيږي انتظار باسي ، خو بيا به اوبه د ورښه تيرې وې . پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولـئ